**مطبوعاتي اعلاميه**

**د فلسطيني مسلمانانو پر وړاندې د ظلم او فتنې د پای ته رسولو لپاره د مسلمانانو د ساتنې لارښود**

**۱. د مسجد الاقصی ازادول او د فلسطين سپېڅلې خاوره يوازې د فلسطين نه، بلکې يوه اسلامي مساله ده.**

موږ يو امت يو؛ زموږ د کمزورتيا لامل د ملت پالنې پر بنسټ تقسيم دی. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**[وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا ۚ وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُم بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا]** [عمران: ۱۰۳]

***ژباړه:*** *ټول يو ځای شئ، د الله سبحانه وتعالی رسۍ کلکه ونيسئ او تيت ـ پرک مه کېږئ. د الله سبحانه وتعالی هغه پېرزوينه درياده کړئ، چې پر تاسو يې کړې ده: تاسو يو د بل دښمنان وئ، هغه ستاسو په زړونو کې مينه واچوله او د هغه په مهربانۍ او لورينې سره تاسو سره ورونه شوئ...*

د مسجد الاقصی دفاع يوازې د فلسطين د بې وسلې مسلمانانو مسووليت نه، بلکې دا د ټول اسلامي امت د ميليونونو زړورو سرتېرو مسووليت دی.

**نو په خپلو لاريونونو کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم له تور او سپين بيرغ پرته، چې د راتلونکي خلافت بيرغ دی او انشاءالله ډېر ژر به بيا تاسيس شي، د فلسطين ملت پال بيرغ مه پورته کوئ.**

**۲. د استعماري غرب، د هغوی د ګوډاګيانو او ملګرو ملتونو مداخله رد کړئ.**

غرب د اسلامي خاورو د نيولو ملاتړ کوي او د هغوی د خلاصون مخه نيسي، لکه د فلسطين، کشمير او افغانستان حالت. اسلام د الله سبحانه وتعالی له حاکميت پرته بل حاکميت نه مني، ځکه چې دا طاغوت دی او بايد ونه منل شي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**[أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يَزْعُمُونَ أَنَّهُمْ آمَنُوا بِمَا أُنزِلَ إِلَيْكَ وَمَا أُنزِلَ مِن قَبْلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوا إِلَى الطَّاغُوتِ وَقَدْ أُمِرُوا أَن يَكْفُرُوا بِهِ وَيُرِيدُ الشَّيْطَانُ أَن يُضِلَّهُمْ ضَلَالًا بَعِيدًا]** [نسأ: ۶۰]

***ژباړه:*** *ای رسول الله صلی الله عليه وسلم! ايا تا هغو خلکو ته نه دي کتلي چې دعوه کوي: موږ پر هغه کتاب چې تا ته راغلی دی او پر هغو کتابونو چې له تا څخه مخکې نازل شوي وو ايمان راوړی دی؟ ـ خو غواړي چې خپلې چارې د پرېکړې لپاره د طاغوت (شيطان) لوري ته وړاندې کړي. حال دا دی چې هغوی ته د طاغوت څخه د منکرېدو حکم شوی و. شيطان غواړي هغوی وغولوي او له سمې لارې څخه يې ډېر ليرې وباسي.*

**نو له استعمارګرو څخه مه غواړئ چې د فلسطين په مساله کې منځګړيتوب وکړي، بلکې زموږ د چارو سرپرست په توګه د نبوت پر منهج د خلافت د بیا تاسیس غوښتنه وکړئ.**

**۳. د مسجد الاقصی او ټول فلسطين د ازادولو لپاره د پاکستان له پوځ څخه غوښتنه وکړئ**

د غصب شوې ځمکې د ازادولو لپاره جهاد پر هغه چا فرض دی چې وړتیا یې لري. د پاکستان پوځ دا وړتیا لري، خو د اوسنیو واکمنانو له لوري مهار شوی دی. پر اوسنیو واکمنانو سترګې پټې کړئ، د پاکستان پوځ باید د یهودو اشغال په بشپړه توګه له منځه یوسي، لکه څنګه چې الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**[وَأَخْرِجُوهُم مِّنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ وَالْفِتْنَةُ أَشَدُّ مِنَ الْقَتْلِ]** [بقرة: ۱۹۱]

**ژباړه:** *له هغوی سره هر چیرې چې مخامخ شئ وجنګیږئ، هغوی له هغه ځایه وباسئ چې تاسو یې ایستلي یئ؛ ځکه که وژل هر څومره بد عمل دی، خو فتنه له هغه څخه هم ډېره بده ده...*

په حقیقت کې ظلم او تیری یوازې د اسلام په چوکاټ کې پای ته رسېدلی شي او خلافت د مسلمانانو، عیسویانو او یهودانو لپاره د امن ځای و.

**نو پر هغو واکمنانو غږ مه کوئ چې د مسجد الاقصی غږ نه اوري، د پاکستان پر پوځ غږ وکړئ چې مستقیم حرکت وکړي او هغه واکمنان ونیسي چې د دوی مخنیوی کوي.**

**د حزب التحرير- ولايه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۲ هـ.ق، د شوال ۷مه**

**۲۰۲۱م، د مې ۱۹مه**

**د صدور ګڼه: ۷۵/ ۱۴۴۲**

**#Aqsa_calls_armies**

**#الأقصى_يستصرخ_الجيوش**

**#OrdularAksaya**

**#AqsaCallsArmies**